**بسم الله الرحمن الرحيم**

# په طرابلس کې وژونکي کثافات!!!

**(ژباړه)**

د لبنان دولت د چاپېریال ساتنې وزیر، مرستیالان او استازي یې لا تر اوسه د خلکو او د هغوی د غوښتنو پر وړاندې خپله ژوره بې پامي ښيي! دولت پرته له دې چې سیمې، خلکو او یا د دوی روغتیا ته پاملرنه وکړي، د کثافاتو د له منځه وړلو لپاره له ډېرو پخوانیو لارو کار اخلي. دوی هڅه کوي چې دغه کثافات پر طرابلس او چاپېریال باندې یې ور بوج کړي، د فوار له سیمې نه یې شروع وکړه او په تربل کې هم تم نه شول- له دې نه د دولت کړنې لیدلی شو- چې دوی له نورو سیمو نه کثافات راوړي د طرابلس د خلکو پر اوږو یې باروي. هوا، اوبه او چمنونه یې ورته ککړوي؛ دوی دا کار د سیمو تر منځ په ښکاره مسیرونو کې کوي او په دې توګه د خلکو روغتیا او ټولنیز امنیت ګواښي!

دغه کثافات، په ځانګړي ډول د تربل کثافات په لبنان کې له خطرناکو کثافاتو څخه دي، ځکه چې دا ډېر زیات دي. په دې توګه دغه د کثافاتو ښخول به په منیه، بداوي، مېریاتا، مارکتا، حیلان او دیرعمار او بالاخره د طرابلس د ټولو ښارونو او کلیو په جغرافیه کې به تر ځمکې لاندې اوبه چټلې کړي. د ډېرو کثافاتو ښخول او له ښارونو او کلیو څخه د هوا د جریانونو تېرېدل به د هوا پر ککړتیا سربېره سیمه هم ککړه کړي. دغه کثافات په لبنان کې تر ټولو ډېر دي، ځکه چې د پنځو ډېر نفوس لرونکو حوزو کثافات یې راټول کړي.

**په دې اړه مور، حزب التحریر-ولایه لبنان لاندې ټکو ته اشاره کوو:**

**د لبنان دولت او له استثنا پرته ټولو وزیرانو ته!** په پیل کې د چاپېریال ساتنې وزیر؛ موږ به پر خپله سیمه د دغې حملې پر وړاندې مخالفت ونه دروو، موږ به ستاسو د هرې ناوړه هڅې پر وړاندې ودرېږو، چې په دغو کثافاتو سره زموږ ژوند ګواښېږ. د دغو کړنو اصلي علت سیمه پالنه او تر مېز لاندې معاملې دي... بیا د دفاع او کورنیو چارو وزیران، چې د خلکو د غوښتنو او اعتراضونو په مخ کې پوځ او امنیتي کسان دروي او په دې سره د پوځ او امنیت رول راټیټوي! له خپل مسیر نه یې کږوي! ان تر دې حده چې مېرمنې د امنیتي کسانو لخوا په دې ګناه وهل و ډبول کېږي، چې د دولت د وژونکې کړنې پر وړاندې خپل غږ پورته کوي. د دولت د دې کار ګواښ نه یوازې هغو خلکو ته متوجه دی چې هلته اوسېږي، بلکې د هغوی بچو او وروسته نسلونو ته هم متوجه دی!

**د طرابلس د استازو په ګډون د پارلمان ټولو استازو ته؛** دوی د خلکو په وسیله ټاکل شوي، څو د دوی د ګټو ساتنه وکړي. موږ له دوی څخه اورېدلي نه دي، خو له خبرونو او ګونګوسو څخه یې ښکاري، چې د دولت له دغه کار سره ستونزه نه لري!! موږ تاسو ته ستاسو له ټولو صلاحیتونو سره وایو، چې ستاسو لپاره هېڅ پلمه نشته او اوس باید د هغو خلکو په منځ کې وی، چې تاسو یې قدرت ته رسولي یئ. له هغو سره مو له کوم ځنډ او مصلحت پرته مرسته کړې وی. دا پلمه چې کثافات د طرابلس له سیمې لرې دي، ډېره کمزورې ده. ایا بادونه به زهرجن مواد طرابلس ته ونه لېږدوي!؟ ایا تر ځمکې لاندې اوبه به د کثافاتو پر ښخولو فاسدې نه شي!؟

**امنیتي ځواکونو ته،** دولت تاسو د هغو کسانو پر وړاندې ودرولئ، چې د دوی او بچیانو روغتیا یې اغېزمنه شوې وه، تاسو څنګه دا ومنله!؟ تاسو هم د همدې سیمو او همدغو خلکو بچیان یئ، ایا د دغو خلکو ستونزه ستاسو ستونزه نه ده!؟ ایا تاسو له دغو خلکو څخه نه یئ!؟ دا کسان د دې لپاره درېدلي چې خپل ځان او بچیان وژغوري، تاسو د دوی بچیان نه یئ!؟ دولت څنګه تاسو ته په دومره ټیټه سترګه ګوري، چې د کثافاتو ساتونکي مو کړي!؟ تاسې به دا شیان ساتئ او که د خلکو ژوند، مال او عزت!؟ ستاسو دنده دا ده چې خلکو ته د زیان رسېدو مخه ونیسئ... نو له خلکو سره د هغوی د مشروع غوښتنو په څنګ کې ودرېږئ.

**اې خلکو!** پوهېږئ، تاسو چې څه کړي هغه مو په دین کې یو له ډېرو مهمو کارونو څخه دي. دا ژوند ته د اسلام له نظره یو ډېر مهم کار دی، چې روغتیا ته پام وشي او چاپېریال له ککړتیا او افتونو څخه وساتل شي. او دا د دولت له دندو څخه دي، چې خلکو ته پاملرنه وکړي، مالیه ترې ټوله نه کړي او جیبونه یې لوټ نه کړي. دا به که د خدای خوښه وه ډېر ژر د نبوت پر تګلاره راشده خلافت کې وګورئ، چې د بېلګې په توګه داسې کارونه به وکړي:

د هوا ککړتیا به کمه کړي؛ پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایي:

## «اتَّقُوا الملاعِنَ الثَّلاثَ: البرَاَزَفيالـمـوارِدِوَالظِّلِّ وَقَارِعَةِ الطَّرِيقِ»

***ژباړه:** د درېو شیانو ساتونکې اوسئ: د اوبو ورکولو په ځایونو کې اسانی، د تلو راتلو لارو او د ونو سیوریو ته ډېره پاملرنه کوئ.*

پورتني حدیث ټول هغه شیان منعه کړي، چې مسلمانانو او د هغوی عامه سرچینو، چاپېریال او سرکونو ته زیان رسوي.

د اوبو د سرچینو پاکوالی او د څښاک د اوبو پاکوالی؛ پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایي:

**«لا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الـماءِالدَّائِم ثُمَّ يَغْتَسِلُ مِنْهُ »،**

***ژباړه:*** *تاسې باید په ولاړو اوبو کې بولې ونه کړئ، ښایي وروسته به پر هغه باندې مینځلو ته اړتیا پیدا کړئ.*

له جابر بن عبدالله رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی:

**«أَمَرَنَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم أَنْ نُوكِيَ أَسْقِيَتَنَا وَنُغَطِّيَ آنِيَتَنَا»**

***ژباړه:*** *حضرت محمد ص راته امر وکړ، چې خپل پټک بسته او لوښي مو پوښ کړو.*

ځکه چې په دغو لوښو کې اوبه وې. هغه وخت دولت دا مسوولیت درلود، چې د اوبو سرچینو ته پام وکړي او د څښاک د اوبو کیفیت کنټرول کړي او له ککړتیا څخه یې وساتي.

سربېره پر دې باید فاضلابو او هغو راتلونکو خطرناکو پایلو ته باید پاملرنه وشي. انجینیران باید د چاپېریال او د ښارونو او ټولنو انجینیري باید د هوا تبدیلۍ لارې جوړې کړي، د ډېر نفوس مخینوی باید وکړي، د فاضلابو پروسس اسانه کړي، کوڅې پاکې او کثافات ټول کړي. هر نوع الوده کوونکي شیان لکه: شورماشور، مزاحمتونه او زهرجن مواد له منځه یوسي. الحفیظ ابن هاجر په الفتح کې له عمر ابن شباح څخه په اخبار المدینه کې راوړي، چې دی وایي:

«عمر بن خطاب په بازار کې د اهنگر د ټکولو غږ واورېد. هغه یې تر هغو په لغته و وهلو چې له منځه ولاړ.» اهنگر شورماشور جوړ کړی و او لوګي یې هم هوا ککړوله. له همدې امله امیرالمومنین حضرت عمر رضی الله عنه هغه له بازار څخه لرې کړ، داسې عامه ځای چې خلکو پکې تګ راتګ کاوه. په اسلام کې د عادلانه او مخلص حاکمیت لپاره زیاتې عملي حل لارې شته، چې د خلکو د دین او ارمانونو استازیتوب کوي.

موږ په حزب التحریر-ولایه لبنان کې د حاکمې ډلې په پراخه کچه فساد خبر یو، خپله دولت هم مفسد دی. دا دولت کافر استعماري غرب رامنځته کړی و. د مفسدو خلکو یوه ډله ټاکل شوې، چې فساد مخکې بوځي. دا ډله په لومړي ګام کې خپلو بادارانو ته او وروسته بیا خپلو جیبونو او حسابونو ته کار کوي. له دوی څخه یو هم معاف نه دی. له دې حاکمیت سره مل کسان؛ یو هم له فساده پاک نه دي. خو اوس هم په خلکو کې لږ هیلې لیدل

کېږي، لکه هغه خلک چې په فوار او تربل کې يې اعتراضونو ته مثبت ځواب ورکړ؛ په خپلو سيمو کې يې د ويجاړوونکو پروژو مخنيوی وکړ، د دولت له تهديدونو څخه وېرېدل، په دې سيمه او نورو سيمو کې يې د دغې موضوع خپرېدل و نه منل. نو دغه ويل بايد تاسو ته واضح کړي: زه پر هغه ورځ وخوړل شوم، چې سپين غويی وخوړل شو. (له نورو سره د ظلم پرمهال مه چوپ کېږئ. ځکه دا ظلم يوه ورځ پر تاسې هم کيږي.)

تاسې بايد خپلو اعتراضونو ته دوام ورکړئ. د کثافاتو موټر د کثافاتو ښخولو ته پرې نه ږدئ او هغه سياسيون افشا کړئ چې د سرکونو په پرانيستلو او د کثافاتو د ښخولو په بندولو سره خلک غولوي. دا جدي مسله ده، ځکه ستاسو پر روغتيا مستقيمه اغېزه لري. له طرابلس څخه د ترېبول تر ختيځ او لويديځ غرونو پورې ستاسې پر وروستي نسل هم اغېزه لري. نو ادامه ورکړئ او صابر واوسئ، ځکه فتح د صبر په پای کې تر لاسه کېږي. الله سبحانه و تعالی له تاسو سره دی، ستاسو د کړنو اجر به هتمي درکړي.

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذوالحجې ۱۵مه**

**۲۰۱۹م کال، د اگېسټ ١٦مه**

**حزب التحرير-ولايه لبنان**